# د خبریالۍ لاربنود

11

خپروونکی: روی‌ټرز خبرځای

ژباړن: محمد زمان ستانکزی




نوملړ:


- **د رویټرز ارګان**
- **د خبریالۍ لاربنود**
- **نوم لړ**
- **سریزه**
- **پیژندنه**
- **په ټولنه کې د خبریال رول**
- **د یوه ښه خبریال ځانګرتیاوي**
- **د مطلب د لیکلو تګلاره**
- **څه شیز خبردی؟**
- **څه ډول یو خبر پیدا کړو؟**
- **څه ډول یو خبر وړاندي کړو؟**
- **سرچپه هرم**
- **ولې دا خبر را ته مهم دی؟**
- **د لیډټاکل**
- **د لیډ د لیکلو لپاره بیلابیلې کړنې**

- **د ليږ د ښه کولو لپاره څولارې**
- **په خبر کې کليدي ټکي**
- **د خبر سرچينې**
- **راپور**
- **شننه**
- **راپور ليکنه**
- **مرکه**
- **خبري غونډې**
- **د اعدادو ليکل**
- **اخلاق**
- **په کار کې امنيت**

## سريزه:

د ۲۰۰۴ زېږيدي کال په اکتوبر مياشت کې رويټرز او د ملگرو ملتو د سازمان د پراختيايي پروگرام اداري د هسپانيې د نړيوالو همکاريو د آژانس په مرسته په عراق کې يوه گډه پروژه تر لاس لاندې ونيوه څو د خپلواکو او سراسري رسنيو په نشتون کې په عراق پورې اړوند خبرونه په ښه بڼه د دې هېواد په رسنيو کې خپاره شي، ددغه کار لپاره د الاوسط په نامه يو انټرنيټي سايټ جوړ شو څو عراقي خبريالان وکولای شي د عراق له گوټ گوټ څخه په دغه سايټ کې خبرونه تبادله کړي او خپل خبرونه پدې سايټ کې خپاره کړي.

په ياده شوې پروژه کې دغه راز د خبريالانو پر زدکړو څارنه هم شامله وه، څو د عراقي خبريالانو د پوهې کچه لوړه شي په ځانگړې توگه په دوه زره پنځم کال کې چې په عراق کې ټاکنې ترسره شوې؛ دغه ټاکنې څرنگه تر پوښښ لاندې ونيسي، له هغو ډلو څخه چې په دغه پروگرام کې يې دوه مياشتنۍ زده کړې وکړې په الاوسط انټرنيټي شبکه کې يوه مرکزي هسته جوړه شوه، د سايټ له جوړېدو څو مياشتې وروسته پنځه سوه راپورونه او خبرونه پکې خپاره شول، او په ډېرې چټکۍ سره دغه سايټ څو مياشتې وروسته د زيات هر کلي وړ وگرځېد، د دوه زره پنځم ميلادي کال د جون په لومړيو کې په دغه سايټ کې ثبت شوي راپورونه له دريو زرو لوړ شول، دغه بريا او لړۍ ددې لامل شوه چې دا مهال دغه سايټ په يوې خپلواکې رسنۍ واوښت.

اوس ددغه سايټ همکاران د زياتو مالي سرچينو په لټه کې دي تر څو وکولای شي لدغه سايټه ملاتړ وکړي دغه يادښت چې د رويټرز د خبرځای د اصولو پر بنسټ ليکل شوی طرحه شوی څو وکولای شي چې عراقي خبريالانو ته سلا مشوره او لارښونه وکړای شي ياپه بل عبارت د عراقي خبريالانو د پوهې د کچې په لوړولو کې مرسته وکړي، داټولگه د رويټرز د خبريالانو د تجربو له مخې چمتو شوې، دې ته په پام سره چې خبريالي له يوه هېواده په بل هېواده کې توپير کوي نشو کولای دغې ټولگې ته بشپړه ټولگه ووايو خو تمه داده چې وکولای شو د رويټرز تجربې چې دغه خبرځای ۱۵۰ کلنه لرغونتيا لري ترسيم کړي، دې سريزې ته په پام سره خبريالان کولای شي په يو مخ هغه مطالب خپاره کړي چې فکر کوي ورسره مرسته کولای شي.

۲۰۰۶/ جون

## پېژندنه:

د خبریالۍ دندې ته یې شان او نړیوال اصول نه شته.دا چې څه ډول کار وکړو ،یا اجازه ورکړی چې څه ډول کار وکړو.له یوه هېواده وبل هېواد کې توپیر کوې په همدی حال کې ټولیز اصول شته چې دټولې نړۍ خبریالان ورسره هوکړه لرې.کلیدی ټکې شته چې کوم ډول راپور یو ښه او مسولانه راپور دی.اصلې قضیه د حقایقو موندل دي هغه هم په غوره بڼه جې یو تن وتوانیږې په داسې شرایطو کې چې ژوند کوې دغه چاره تر سره کړې

ځینې ټولیز او کلیدې اصول شته چې زمونږ په کار کې کولای شې د یوه ښه خبریال د ورځنیو چارو لاربنود وې.دقت،واقیعت موندنه،رښتیا او انصاف دی.

دقت کلیدې رول لرې که بریالې نه شوی چې لومړنې اطلاعات په سمه توګه تر لاسه کړۍ لکه د افرادو نومونه ،سرلیکونه ، پوستونه او اعداد لوستونکې مو له خپرونو مخ ګرځوې او د نورو خبرې سرویسونو په لټه کې کیږې.

په رښتیا موندنې باندې لاس رسۍ او بې پریتوب سخت دی. ډیر کسان په دې آند دې چې اصلا نه شو کولای په رښتیا لاس رسی ومومو ځکه هر خبریال خپله کارې مخینه لرې او دا موضوع کولای شي د دوې په چارو او د اطلاعاتو په تر لاسه کولو اغیز وکړې. په دغو ټولو سیاسې دباو او اقتصادې لومړیتوبونه هم ور زیات کړی.په همدې حال کې په تمرین سره خبریالان کولای شې د واقیعت موندني په لوړو درجو لاس رسی پیدا کړی.

یوه مسلکي او جدي خبریال ته په لومړني پړاوکې رښتیا ډیر مهم دی.په ډیری آسانۍ سره کولای شۍ خپل ځانته خیالې سرچینه جوړه کړۍ او یا نقل قول جوړکړۍ. البته دا ډیره ساده چاره ده خو ډیره هم خطرناکه.په ځانګړی توګه هغه مهال چې د بل چا خبر غلاکړئ او په هغه خبر کې یې خپور کړی چې په خپله مو تر لاس لاندې دی.که له یوې همداسې لارې خبر جوړ کړی پایله به یې له لوړو ژورو پرته بل څه نه وې.

د خبریالانو په اخلاقی فدراسیون کې راغلې:خبریال بايد د خبر له منصفانه تګلارو څخه په ګټې اخیستو خبر،انځوراو نور اطلاعات تر لاسه کړې.د منصفانه لارو څخه یوه لار دا ده چې تل ځان خبریال وپیژنو ،د اطلاعاتود تر لاسه کولو لپاره خلک مه تیر باسۍ او چاته ګواښ مه کوئ.

## په ټولنه کې د خبریال رول :

په ولسواکو دولتونو کې د خبر یالانو تر ټولو مهم رول دا دی چې د حکومت او خلکو تر منځ د اړیکو وسیله وي.دوه طرفه کانال دی.خبریال کولای شي خلکو ته د پریکړو او کړنو په باب وواییې او حکومت ته د خلکو نظر هم ولیږدوي.

خبریال په لاندینو مواردو کې رول لرې:

- د دولت محکمو او سترو شرکتونو په کړنو څارنه او د هغوي د بریاو او ناکامیو بربنډول.
- په ټو لو برخو کی د فساد د جرړو موندل.
- د چارواکو بې غوریو او نیمګړو کړنو ته د خلکو پام ور اړول.
- د تولني مختلفو اقشارو ته د تریبون ورکول،نه دا چې د ټولنې یوه برخه خلک په پام کې وي.
- هغو خلکو ته چې غواړي رایی ورکړي د سیاسي سیالانو له پروګرامونو سره مرسته وکړي .
- اقتصادي حالت شرحه کړي.

## د یوه ښه خبریال ځانګړتیاوي:

**کنجکاوي:** که خبریالان شخصا کنجکاو وي کولای شي خپلي پوښتني ښي مطرح کړي.

**خبري حس:** دا چې پوه شو،څه شی خبردی عموما په تمرین سره تر لاسه کیدای شي،خو داسې بریښي چې ځینې خلک خبري حالت درک کولای شي.

**استقامت او د کار تعقیب:** دا چې د اطلاعاتو د تر لاسه کولو په لټه کې وی او له داسې اداري سره مخامخ شی چې تاسو ته خنډونه جوړوي او کارونه مو له یوې اداري وبلی ته سپاري دغې چارې ته مه تسلیمیږی.

**واقعیت موندنه:** یو ښه خبریال خپل نظریات او تعصبات په کور کې پریږدي او د تحریریې میدان ته ور دانګي. د ټولنې په وړاندې د خبریال دنده دا ده چی خلک خبر کړي نه دا چې وهڅوي.اطلاعات ورکړي له ټولو ښکیلو لورو،تر کومه چې ښایې او اجازه ورکړي تر حو خلک خپل هوډ ونیسي.

**شک او تردید:** خبریالان چې له چارواکواود شرکتونو له مسولینو سره ډیر کار لري د هغوی د څرګندونو په وړاندې باید ډیر شک ولري.سرچینی ډیر خوښ لري تاسو ته داسې اطلاعات درکړي چې یې په ګټه وي خو باید پوه شي چی دا شک او تردید په بدګماني وانوړي.

**له خلکو سره راحت ووسی :** د خبر زیات داستانونه خلک جوړوي له خلکو سره ښه تعامل د یوه خبریال چاري د بري تر پولو رسوی نو ښه خبریال هغه دی چی له خلکو سره ښی اړیکې ولري.دا چاره د دي لامل کیږي چې خبریال په حقایقو لاس رسی ومومي.

## د مطلب د لیکلو تګلاره:

**خبر:** له هغې پیښې روښان او نیغ په نیغه راپور چې همدا اوس را منځته کیږي.

**ښه خبر:** هغه دی چی تر کومي کچې کولای شي اغیزمن وي او خبریال یې په پوښښ کې څومره مهارت لری. خبرونه معمولا لنډعمر لري.

**راپور:** هغه داستانونه چې د رامنځته کیدو مهال یې مهم نه وي او دلیل نه لری لکه تود او تازه خبر.زیات د هغه څه په اړه دی چې په دي ورځو کې را منځته کیږي او نه هغه څیزونه چې دا مهال را ولاړیږي. د زیاتو څیزونو حالت ،پیښې،ځایونه او لنډه دا چې اشخاص داسې چې په اړه یې لیکل لوستونکې ته جالب او په زړه پوری وي ښه را پورونه دي.

دا راز موضوعات د نوي توب له امله لوستونکي نه شي را جلبولای.نو ځکه باید خبریال له خلاقیت،د لیکلو له تګلاري،رنګ او جزییاتو ګټه واخلي تر څو لوستونکي را جلب شي.

**شننه:** مهمې او ارزښتمني موضوع ته ژوره کتنه چې د موثقو اسنادو پربنسټ چمتو شوي وي او په کي له بیلابیلو سرچینو چې نومونه یې ذکر شوي وي، نظریات اخیستل شوي وي، ګټه واخیستل شي.لازمه نه ده چې شننه داسې لیکل یعنی نګاه ولیږدوي چې د ټولنې له دود سره هوکړه ولري ځینې وخت همدا غوره شنني دغه لیدني تر ننګونو لاندي راولي.

**مقاله :** هغه یاد داښتونه چې اغلبا د ورځپاڼي سیاسي لیدنه لیږدوي.د سرمقالې په چوکاټ کې چاپیږي او اغلبا د کار پوهانو له لوري لیکل کیږي.

## خبر څه شی دی؟:

له خبر څخه یو زوړ تعریف چې څه شیز خبر دی:

که سپی سړی وخوری دا خبر نه دی.خو که سړی را ولاړشي او سپی وخوری دا خبر دی.

له دې ښکاري چې خبر بايد د غیر معمولي پېښو په اړه وي.خو تل هم داسي نه وي چې خبر دې غیر معمولي پېښې را واخلي.دولتي اعلامیې ،د سترو شرکتونو له لوري خبرپاڼې چي د خلکو په ژوندانه کې مهمي وي هم شايې خبر شي.دا چې په ورځپاڼې کې کوم خبر مهم دی،په مختلفو فکتورونو تړلی دی.

**مجاورت او نږدېوالی**:هر هغه خبر چې مونږ ته نږدې وي زيات ارزښت لري. بل فکتور ربط لرل دی.د بېلګې په ډول د کروند ګرو لپاره د آسانتياو را منځته کول که آن زمونږ په ګاونډي هیواد کې وي هم مهم پرمختګ دی.

## څه ډول خبر پیدا کړو؟ :

د ورځي له خبرونو زيات هغه دي چې لا له وړاندي پوهیدو رامنځته کیږي.لکه په دولت کې خبري غونډه،د بهرنیو چارواکو لیدنه،کلنی خبرتیاوي،دا کولای شو په خپلو ورځنیو جنتریو کې ولیکو.

دي ډولو ته په پام سره داسي خبرونه هم شته چې ناڅاپي را منځته کیږي لکه د دوو ریلونو او الوتکو ټکر...

## تخصصي ژورنال:

څوک چې د روغتيا ،علم،چاپیریال ساتني یا ټیلو په اړوند خبرونه خپروي کولای شي دا ډول ژور نال وکاروي.دا ژور نال کارپوهانو ته لیکل کیږي نو ځکه هم تخصصی ژبه لري.خو ښایې ډیر خبرونه په زړه پوري هم وي.فکر مو وي چې دا ډول ژورنالونه بايد ساده ولیکل شي.

## څه ډول یو خبر وړاندي کړو؟

خبریال بايد په دي فکر کې وي چې څه ډول خبر جوړ کړي څو د لوستونکو پام ځانته را واړوي زيات لوستونکې د داسي اطلاعاتو په لټه کې دي چې له تلویزیون ،راډیو او انټرنټ څخه یې تر لاسه کوي د هغوي د زړه د راښکون لپاره بايد خبر روڼ ولیکل شي،لنډاو ګټور،په زړه پوری،غیر متعارف،رنګ لرونکی او ژوندی.

## سرچپه هرم:

دا د خبر د لیکلو لپاره کلاسیکه او سنتي تګلاره ده.ښه خبریال کولای شي له دې تګلارې په ګټې اخیستوخبر په څلورو او یا پنځوپارا ګرافونو کې ولیکي.د خبر کلیدي عناصر د خبر په سر کې را ولي او نور عناصر ارزښت ته په پام سره په ترتیب راولي. لومړنی پاراګراف یعني دلید پاراګراف حیاتي دی.بايد دغو پوښتنو ته ځواب ورکړي

– څه پېښ شوي؟

– څوک په دغې پېښې کې ښکیل ؤ؟

– څه وخت دغه پېښه را منځته شوې؟

– چیرې را منځته شوې؟

– زه له کومه پرې پوهیږم؟ د خبر( سرچینه)

که چا،څه،څه شي ،څه وخت،چیري،ولي او څرنګه پوښتنو ته په دوو لومړنیو پراګرافونو کې ځواب ورنه کړو په پاتی برخه کې بايد هڅه وشي څو مطلب لوستونکي پاته شې.

په لیډ کې کلیدي اطلاعات راځي.جزییات نورو پاراګرافونو ته پریږدی د اشخاصو نومونه په دې صورت کې چې زیات مهم نه وي او اوږد پست په لیډ کې مه را ولې.د خبر سرچینه باید په لیډ کې وي.ځکه لوستونکی د سرچینې په لیدو سره پوهیږي چې خومره کره دی او اعتبار لري.

ځینې مهال کولای شي سرچینه په دویم پاراګراف کې را ولې. خو باید سرچینه له دویم پاراګراف څخه وروسته را نه شي.

دویم پاراګراف باید هغو پوښتنو ته ځواب ورکړي چې په لومړني پاراګراف کې ورته اشاره نه ده شوي.لکه ولې او څه ډول دغه پېښه را منځته شوه.او وروسته له ځان څخه دغه کلیدي پوښتني وکړي:

## ولې دا خبر ما ته مهم دی څه مطلب؟

د خبر اوډون او بګروند روښانه کړئ.لوستونکو ته روښانه کړئ چې ولې ارزښت لري چې خبر یې ولوستل شي.ښایې خبر ستاسو په نظر جذاب وي خو که د نورو په نظر جذاب نه وي؛ وخت مو بې ځایه لګیدلی.له دې وروسته مو چې د خبر اصلي برخې روښانه کړې نقل قول ته اړتیا لري.څو د هغه لیډ اعتبار مو زیات کړي چې لیکلی مو دی هغه پیاوړی کړي.دغه راز ښيې څه مو چې لیکلي د شواهدو او مدرک په بنسټ وي.

د رویټرز خبر چې لاندې لولی څرګندوي چې څه ډول اصلي پوښتنو ته ځواب ورکړل شوی دی. او دغه شان د خبر سرچینه څه ډول ذکر شوي.په دویم پاراګراف کې د خبر بافت او پیش زمینه لیکل شوی او په دریم پاراګراف کی داسې نقل قول راغلی چې خبر مظبوطوي.

سیول/رویټرز :

<u>شمالي کوریا د جمعې په ورځ وویل چمتو ده د شپږ اړخیزو خبرو اترو میز ته بېرته کېني او که شرایط چمتو وي نو خپلو اتومي فعالیتونه به پای ته رسوي.د سوېلي کوریا خبر ځای یونهاپ د پیونګ یونګ د چارواکو په حواله خبر ورکړ.</u>

<u>دغه دریځ یوه ورځ وروسته په داسې حال کې خپریږي چې ولسمشر بوش او د چین جمهور رییس هوجنتاو د کمونستي شمالي کوریا د هستوي فعالیتونو له کبله چې په نړیوال ګوښه توب کې دی څرګندی کړی.او ژمنه یې کړی وه چې د خبرو اترو د لړۍ له پیله به چې کابو یو کال ودریدلی وي ملاتړ وکړي.</u>

(که امریکا وښیي چې وکړای شو پری باور وکړو او سم شرایط جوړ کړي مونږ هره موقع چې وواییې ،چمتو یو خبرو ته حاضر شو.)

<u>د شمالي کوریا چارواکي لکه څرنګه چې یونهاپ خبر ځای راپور ورکړ د روسیې یوه پارلماني پلاوي ته چې له پیونګ یانګ یې لیدنه کوله،ویلي.</u>

له دې نقل قول وروسته یو یا دوه پاراګرافه مخینه یا بګراوند ورکړی او وواییې چې څه اتفاقات له دغه خبر وړاندې شوي ؤ څوخبره تر دې ځایه را ورسیده.وروسته کولای شې دا خبر له څلورو پاراګرافونو وروسته په یوې ورځپاڼې یا انترنیټي سایټ کې خپور کړئ او ټول کلیدي موضوعات لوستونکي ته ولیږدوی.په همدې حال کې کولای شې خبر دغه راز په څونورو نقل قولونو مخینې ،رنګ او جزییاتو سره وړاندې کړئ.

**د لیډ ټاکل:** لیډ د خبر ټول جزییات په لومړني په ډېر مهارت سره روښانوي نو غوره ده چې د یو ښه لیډ د جوړولو لپاره یو څه وخت ځانګړی کړو.ځینې مهال،په پیچیده خبر کې ښایې ونه توانیږې په هماغه لومړني مهال کې لیډ جوړ کړئ.نو له همدې امله هغو موضوعاتو ته چې لاندې ذکر کیږي غور وکړئ.

– د بسونوتمځای- فکر وکړئ د بسونو په تمځای کې ولاړیې او غواړئ خپلو دوستانوته چې په بس کې سواره دي،اوبس هم د تلو په حال کې ده،باید کړیکه ووهی اصلي پېښه وړاندې تر دې چې دوستان موغږ وانوري او ولاړشي،په چټکۍ سره بیان کړئ.

-انې یا انا- داسي فکر وکړئ چې دغه پېښه د ټیلیفون له لاري خپلې نیا ته بیانوئ.

– ملګری- هغې پوښتني ته چې ملګری مو پوښتي،ځواب ورکړئ.پېښه څه ډول وه؟اوس درته وایم.......

– ټیټر- لومړی ټیټر ولیکلی.ځکه فکر مو کلیدي موضوعاتو کې متمرکز وي.

– د اصطلاح یا واژي کلید- د اورپکو مشر پاچا په ډزو سره ووژه. (هله ګوله)

# د لېد د لیکلو لپاره بېلابېلي تګلاري:

هغه لیدونه چې اړتیا نشته په کې د پېښې شخصیت وپېژني.

ولسمشر کلینټن د سې شنبې په ورځ وویل:هوډ لري کوسوو ته اضافی سرتیري واستوي.ځکه په دې هیواد کې سخت تاوتریخوالی روان دی.خو ډاډه شی خلک حتما د پېښې ښکېل شخص پېژني.که نه کولای شی چې ویې لیکی.

یوه امریکایې جګپوړي چارواکي وویل دولت څیړنی کوي چې کوسوو ته اضافي سرتیري واستوي ځکه.......

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال دن مورګان.....یا.....یوه چارواکي چې نه یې غوښتل نوم یې څرګند شي وویل......

# ډلبندي شوي لېدونه:

له دې لیدونو هغه مهال ګټه اخیستل کیږي چې څو بېلابېل موضوعات را منځته شوې وي او هیڅ یو یې دومره مهم نه وي چې وکړای شي په یواځې سر ځانته لیډ ځانګړی کړي،خو ټول د یو او بل ترڅنګ وکړای شي موضوعات روښان کړي.دغه لیدونه هغه مهال کارول کیږي چې خبریال وخت ونه لري چې موضوعات ځان ،ځان ته وڅیړي او هر یوه ته یو خبر ولیکي.

بېلګه:

د ختیځ تیمور دولت ۳۵۰نوي اقدامات تر لاس لاندې نیولي څو بهرنی پانګه جذب کړي،په ځانګړې توګه د تیلو او ګازو په برخه کې.

یو له دې اقداماتو .....

# څواړخیز لېدونه :

کله چې دوه دوه پېښې په یوه مهال را منځته شي او ونه شو کړای چې د دواړو تر منځ توپیر وکړو.

بېلګه:

د برتانیې دولت د پجشنبې په ورځ اعلام وکړ د دفاع وزیر تام جونز شړي او ټول هغه پروګرامونه ودروي چې راپورونو په کې د وسلو د پیر په مهال د پراخ فساد خبر ورکړی ؤ. که دا موضوعات په لیډ کې زیات وي کولای شی مهم اړخ یې په راپور کې خپور کړی.او دویمه برخه یې په دویم پارزاګراف کې ولیکی.

بېلګه:

د برتانیې دولت د پنجشنبې په ورځ وویل چې د دفاع وزیر تام جونز یې ګوښه کړی او د وسلو د پیر پروګرام یې هم درولی دی. دا اقدام وروسته له دې تر سره کیږی چې په یوې ورځپانه کې په دفاع وزارت کې د فساد د شتون خبر ورکړ شوی ؤ.

## تفسیري لیکونه:

د نورو د نظریاتو پر بنسټ د یوې پیښې پای‌لې روښانوي.

بېلګه:

ولسمشر کلینټن د پنجشنبې په ورځ اعلام وکړ هوډلري له کوسوو څخه درې زره سرتېري را وباسي.دا اقدام به لکه چې ملګرو ملتو ویلي له سیمې د زیاتو صربیانو د تېښتې لامل وګرځي.

کله چې داسې لیدونه لیکی ډاډمن شی کوم مدارک او شواهد چې لری بایډ د خبر په سر کې راشي،د بېلګي په ډول په دریم یا څلورم پاراګراف کې او د امکان په صورت کې د سرچینې نوم هم بایډ واخیستل شي.

بېلګه:

د ملګرو ملتو د کډوالو د عالي اداري مشر جان سوچن اسکای په بلګراد کې رویټرز ته ویلي همدا اوس هره اوونۍ ۵۰صربیان سیمه پرېږدي څکه ویرېږي چې البانیایي توکمه کوسوو میشتې تري غچ وانخلي.دا اقدام ښایې د زیاتو صربیانو د تېښتې لامل شي.

**په لیک کې سرچینه:** عموما سرچینه د لیک په پای کې راځي.

بېلګه:په بوسنیا کې جګړې د دې لامل شوي چې نیم میلیون وګړي په صربستان کې کډوال شي ملګرو ملتو د جمعې په ورځ وویل

خو په ځینو مواردو ،په ځانګړې توګه د اطلاعاتو په کره توب کې شک لری،یا په دې صورت کې چې اطلاعا ت جنجال پارونکې وي،غوره ده چې سرچینه په لومړیو کې راشي.

بېلګه:

د منچوقستان د خلکو یوه سیاسي مخالف مشر ویلي په تېرو شپږو میاشتو کې څه د پاسه ۵زره کسان د ښي اړخو بنسټ پالو له لوري وژل شوي دي.

## د لیک د ښه والي لپاره څو لارې:

له معلومو افعالو کار واخلی،نه له مجهولودا ډول روښانه او لنډه ده.

د ناپیلیون په مشرۍ د فرانسې پوځ منچوقستان ونیوه.

پنتاګون وویل.

مه لیکی:

منچوقستان د ناپیلیون په مشرۍ د فرانسې د پوځ له لوري ونیول شو.

خبرپه پوښتنې مه پیلوی.د کار دا تګلاره په راپور لیکنه کې کارول کیږي.

له عباراتو،مخفف شویو پوستونو او د افرادو او ځایونو له اوږده نامه څخه له دې پرته چې پیژندل شوي وي، ډډه وکړی.

بېلګه:

غوره ده ولیکی:

په اروپا کې یو مهم امنیتي سازمان

له دې چې:

په اروپا کې د امنیت او همکاری سازمان(او اس سی ای)

غوره ده ولیکی:

د ملګرو ملتو د کډوالو اداره

له دې چې:

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتو د سازمان جګپوړی اداره(یو ان اچ سی آر)

په لېد کې هغه مهال له نقل قول څخه ګټه واخلی چې ډېر نامتعارف او دراماتیک وي.

بېلګه:

د یوګوسلاویا د پوځونو قوماندان خبرداری ورکړ که ناټو کوسوو ته دننه شي، د ځمکې په سر به دوزخ وویني.

هڅه وکړی له حال ساده زمانې څخه ګټه واخلی.

چین هوډلري

د دې پرځای چې ولیکی:

چین هوډدرلود...

# د خبر په لیکلو کې کلیدي ټکي :

**دقت:** که لومړني اطلاعات سم ونه لیکی څوک به نورهغه څیزونه چې تاسو لیکلی باور پرې ونه کړي.

# هیڅ وخت:

فکرمه کوی چې لوستونکې مو د هغه خبر په اړه لا له وړاندي پوهیدل چې مو لیکلی دی.هرځل چې خبر لیکی آن که هغه خبر څو ورځې د ژبو په سر وي بایډ په کافې اندازه پیش زمینې ،مخینه او توضیحات ولري.

داسې فکر وکړی داسی چاته خبر لیکی چې څو میاشتي په بهر کې ؤ او تازه نن سهارراګرځیدلی دی.

ذهن مو پرانیستی وي کله هم فکر مه کوی چې فلانی ربنتیا وایې او فلانې تیروتی دی.

# روڼ توب:

د جزییاتو او اعدادو اسیر کیږی مه.له ساده او روښانه ژبې ګټه واخلی.یوه برتانوي ورځپاڼه لیکونکي اچ جی ولز ویلي ؤ((زه چې په لاره سم ځم هماغه شان لیکم،ځکه چې سم لیکل مقصد ته د رسیدو تر ټولو ښه لار ده.))

تصحیح:

کله موچې خبر ولیکه حه ناڅه دوه ځله هغه له لومړیو تر وروستیو ولولی.تیروتني هرس کړی،غیر ضروري کلمات،اعداد او ارقام چک کړی هیڅ وخت دا تمه مه لری چې مو تیروتني نور کسان اصلاح کوي.

## نقل قولونه :

تل د ښو او رنګ دارو نقل قولونو په لټه کې شی. ښه نقل قولونه خبر ژوندی کوي او ورته اقتدار او اعتبار ورکوي،البته لوستونکي په پرله پسي نقل قولونو مه سترې کوی.که زیات شي درک یې ګران دی.که مو د خبر زیاته برخه لیکلي هغه خبرې دي چې موسرچینې ویلي دی.لیکلی عبارات په منطقی ډول له یو او بل سره وتړی دا کار د دي لامل ګرځی چې لوستونکی مو خبر په ښه توګه وڅاري.هڅه وکړی کوم داستان چې لیکی پری نه شي او له یوه ځایه بل ځای ته ولاړ نه شي.

## تعادل:

ډاډمن شی لاسوهنه نه کوی او خپل نظریات په خبر کې نه تپی. ډاډمن شی چې د ښکیلو لورو نظریات مو اخیستي دي.هر څوک چې تورن شوي، اجازه ورکړی غبرګون ته څه ولري.له داسي عباراتو لکه ادعا وکړه ډډه وکړی ځکه دا ډول عبارت په دي معنی دی چې تاسو د مقابل لوري په څرګندونو شک لری.له دغو عباراتو لکه ویره تري څرګندیږي یا فلانی هیله من دی ډډه وکړئ ځکه له دي څرګندونو ښکاري چې د چا پلوي کوی.

## د خبر سرچینې:

د چورلیځي قاعدي تر عنوان لاندي،د خبر د لیکلو په برخه کې مو چې سرچینې چې څومره زیاتي وي غوره ده.د ښو سرچینو پیدا کول خبر با اعتباره کوي.

په اتلسمي پیړی کې برتانوي لیکوال سامول جکسن ویلی‹‹هره ورځ چې تیره شي او زه په کې له چا سره بلد نه شم هغه ورځ مې بې ځایه تللی ده.››

د هر خبر مسول ستاسو د خبر د اخیستو لپاره څه نا څه دوه سرچینی در نه اخلي.هڅه وکړی داسې حالت را منځته نه کړی چې سرچینه په کې نه وي روښانه شوي داسې سرچینه چې ښایې څرګندوني یې جنجال پارونکې هم وي مه رااخلی څو چې نه وای اړ شوي.

## دولتي سرچینې:

دولتي وینااوي،دولتی سازمانونه،مرکزي بانک،او نوري دولتي سرچینې عموما په وسواس سره ادا کیږي او کلمات په دقیق کارول کیږي.خو اغلبا بایډ هڅه وکړی چې زیات جزئیات تر لاسه کړی. دا تر ټولو ښي او با اعتماده سرچینې دی که څه هم تری د زیاتو معلوماتو د اخیستو تمه ګرانه ده.

## کارپوهان ،محصلان او پوهنتونونه :

دا اغلبا تر ټولو ښې سرچینې دي ځکه خپلواکې دي له همدي امله کولای شی درته بي طرفانه اطلاعات په واک کې درکړي.کوم اطلاعات چې راحت نه دی له دولت یې تر لاسه کړی.

## بهرنۍ سرچینې:

ديپلوماتان،نادولتي سازمانونه،ملګری ملتونه او تري لاندي ټيټ پوړي اداري،بهرني شرکتونه دا اغلبا په درد خوري ځکه هېواد ښه پېژني خو له بهرني بعد څخه.

فرهنګي،مذهبي او حرفوي سازمانونو ته مراجعه کولای شي خبر مو جالب کړي عبادت ځایونه په ټولېزه توګه غړي لري.دغه راز په هر هېواد کي پراخ وي.له همدي امله پوهېږي چي اوس څه را منځته کېږي.

# د واټونو سرچېني:

ټول ناريڼه او ښځېنه چي په واټونو کي وېنی ،تل ارزښت لري له هغو سره خبري وکړي. په دي شرط چي له ګڼو خلکو سره خبري وکړی تر څو وکړای شی له پېښي څوارخېز او ټولېز تصویر وړاندي کړي.

# نوري رسنۍ:

کله داسي پېښېږي له دي پرته چي له نورو رسنیو نقل قول وکړی بله لار نه لری.لکه ځېني وخت یو شمېر اشخاص له نورو رسنیو سره مرکه کوي تاسو بایډ د هغي رسنی نوم په ډاګه کړی او پري خبر جوړ کړی.

خبر دي کېدای شي له چاپ وړاندي ووینم .

دغه راز غوښتنو ته مه تسلیمېږی.او مقاومت وکړی.که بله لار نه وي نو د دقت د لوړولو لپاره دا چاره تر سره کړی.د نقل قول محتوا ته بایډ بدلون ورنه کړی دغه راز سرچېني ته وخت مه ورکوی چي د خبر د لیکلو په مهال در سره ناست وي.

# راپور :

راپور ونه په وخت پوري تړلي نه دي او کولای شو هغه وخت ته له پام پرته ولیکو.دغه راز کولای شی د ورځي خبرونه بدرګه کړي.

# بېلګه:

کله چي غواړي یوه زلزله تر پوښښ لاندي راولی یا یوه بله طبیعي پیښه،ښه خبریال بایډ بشپړخبر ولیکي او ټولي زاویي تر پوښښ لاندي راولي خو بده نه ده د خبر تر څنګ رنګ لرونکي راپور هم ولیکي.د بېلګي په ډول:

خلک له یوم او کلنګ پرته هڅه کوي د هغه وران کور خاوري او خزلي را وسپړي کوم چي په کي د یوي کورنۍ ګن غړي تر خاورولاندي شوي دي.دا راز راپور مرسته کوي چي د پېښي ټول ابعاد روښانه شي.

د لیډ د لیکلو لپاره چورلیځ اصول تقریبا روښانه دی خو د راپور د لیکلو لپاره ښایي هېڅ روښانه اصل نشته.مهمه دا ده کوم لیډ مو چي لیکلی لوستونکي جذب کړي.

بېلګه:

ځوان جګړه مار آرام بریښېده کله یي چي سیګرټ څکاوه او ټوپک یي په غاړه ؤلس کلن ؤ خو بریالی شو څه ناڅه دولس تنه حکومتي سرتېري د نښتي په مهال ووژني.

# شننه:

خبري موضوع ته له بېلابېلو اړخونو ژوره لېدنه ده چي لوستونکي ته په زړه پوري وي خو الزما خبري نه وي د شنني لیډ ښایي د خبري لیډ په پرتله چورلیځ وي خو لومړي اصول یي یوه برخه ده.د ښو سرچېنولیکل،تعادل،د مخېني ، پیش زمېني او نقل قول وړاندي کول.د خبر پر خلاف

اړتیا نشته چې د مطلب سرچینه په لومړني او دویم پاراګراف کې ذکر شي.خو هر چیرې چې اطلاعات وړاندې کیږي باید راته وې چې دا اطلاعات له کوم ځای څخه را غلي.

د پیچلې شننې د لیکلو یوه لار دا ده چې د مطلب کلیدي ټکي،مخینه او نقل قولونه په یوې ،دوو او دریو ډلو کې د استدلال پربنسټ او کوم ټکې چې غواړو ولیکو ورته اشاره وشي او دسته بندي شي. په دې کار سره کولای شو په منطقې ډول مطالب تنظیم کړو او متضاد او جنجال پارونکې موضوعات یو د بل ترڅنګ ولیکو.په دې ځای کې د رویټرز د شننو څو بېلګې یادې شوې دي.

*لندن-*

*د ګرانښت پراخ کموالی نیاییې د ټوني بلیر هڅې چې په دې وروستیو کې نوي تاکل شوی په پارلمان کې د هغه پروګرامونه چې غواړي د واک په سر کې پاته شي ،په اوبولاهو کړي. د ټاکنو له پایلو وروسته چې په کې بلیر د دریم ځل لپاره وټاکل شو او ګوند ته یې لومړنۍ بریا له کیڼ اړخې منځ لارې سره و.کارګر ګوند یواځې ۶۶څوکۍ ترلاسه کړې په داسې حال کې چې په مخکینۍ پړاو کې یې ۱۶۱څوکۍ درلودې.*

*زنزیبار-*

*په زنزیبار کې د ټاکنو له تر سره کیدو وړاندې کړکیچ مخ پرزیاتیدو دی چې دغه حالت د تانزانیا کورنی حالت انځوروی.*

*مخالفینو په هغو ټاپوګانو کې چې نیمه خپلواکې دی ژمنه کړې اجازه به ورنکړي چې ټاکنو کې د دریم ځل لپاره درغلی را منځته شي.د ۱۹۹۵او ۲۰۰۰م کلونو په ټاکنو کې دوی څنډې ته شوی و.*

## راپورلیکنه یا پلټنه:

ځینې وایې هر ډول راپور په هر حال پلټونکی دی،ځکه ښه خبریال تل د حقایقو د موندلو په لټه کې وي او هڅه کوي د حقایقو تر ټولو غوره نسخه پیدا کړي.په همدې حال کې کند کاو او پلټونکې را پورونه ځانته ځانګړتیاوې لري. چې هغوې متمایزه کوي.

- په ټولیزه توګه وخت او د کار ځواک ته اړتیا لري.
- معمولا د یوه بهیر یا یولړ پیښو د څار په حال کې دي، نه دا چې یواځې یوه پیښه تر پوښښ لاندې را ولي.
- اغلبا د هغو موضوعاتو په خپرولو لاس پوري کوي چې له دې وړاندې په رسنیو کې نه دې خپرې شوې.
- د دوې برې اغلبا نابو سرچینو ته په لاس رسې کې نغښتی. یا په هغو شمیرو او اسنادو کې چې په دولتی ادارو او شرکتونو کې له خپرواې پرته پاته دي.
- ځینې مهال ایجابوي چې په پټه کار وکړئ.غوره ده دا څانګه هغو خبریالانو ته چې تخصص لري او د ډیر کار وړتیا په کې شته وسپاری. انټرنټ د ښو سرچینو څخه ده خو داسې هم نه چې پرې بشپړباور ولری. که په راپور کې پر چا تور لګول کیږي هڅه وکړی له هغه سره اړیکه ټینګه کړی او د هغه غبرګون باید په خپل راپور کې خپره کړی.

## مرکه:

### چمتو والی:

- تر کومه چې کولای شی له هغه چا او یا دفتر سره چې مرکه کوی په اړه یې لومړني اطلاعات تر لاسه کړی که نه وخت مو په آسانه او بې ځایه پوښتنو تیریږي.که ځان مو چمتو کړی وي له چا سره چې مرکه کوې وبه پوهیږي چې تاسو هم په موضوع واکمن یاست. په پایله کې هغه

پوهیږي چې تاسو ورته‌یا لری.او له همدي امله ستاسو په واک کې زیات اطلاعات درکوي.

- که له چا سره مرکه کوی او هغه تړنګار کوي چې پوښتني به ګوري که بله لار نه وي ،پوښتني ور وښیی.خو دا دلیل نه کیږي چې کله مرکه پیل شوه نو هماغه پوښتني به تري کیږي.
- سلام وعلیک-
- څولومړنی دقیقې چورلیځو مسایلو ته ځانګړی کړی که په موضوع واکمن یاست مقابل لوری به وپوهیږي چې څومره چمتوالی لري فضا به ماته او حالت به ښه شي. نومونه او پوستونه حتما چک کړی.

## لیدنه،د لاس او مخ حرکات:

خپله څوکې داسي مه ږدی چې له مقابل لوري سره مخامخ شی. ښایې اذیت شی. څوکې لږشاته کړی،لږ څنډي ته شی. او تکیه وکړی. کله اخوا او بل خوا وګورئ.

**ریکارډ او یاداښتونه:** اجازه واخلی. چې له ریکارډ څخه کار واخلی که ریکارډ کوی هغه د مرکه کونکي مخې ته مه ږدی یوې خوا ته یې کړی ځکه مرکه کونکی به داسي فکر کوي چې غږیې ریکارډ کیږي او په ویلو کې به له احتیاط څخه کار واخلي.

پوښتني بایډ لنډې وي ځکه تاسو معلومات اخلی. نه دا چې معلومات ورکوی.

- سختې پوښتني لومړی مه کوی. ښایې مقابل لوری اذیت شي او دفاعي حالت غوره کړي.او یا هم مرکه ودروي.سختې پوښتني در سره وساتی. چې څه ناڅه ځینې معلومات مواخیستي وي.
- پر تاسو ځینې نیوکه کونکی وایې دا د سختو پوښتنو لار ده.خپل ځان بیرته وباسی او پوښتنه د بل چا له لوري مطرح کړی.
- له پرانیستو پوښتنو ګټه واخلی نه له تړلو پوښتنو ،تړلي پوښتني عموما په فعل پیلیږي او ځواب یې هم اغلبا (هو یا نه)کلیمي دی. د تړلو پوښتنولپاره تل ځای لری په ځانګړی توګه چې د کلیدي موضوعاتو په باب (هو او نه) تر لاسه کوی .
- له څو پرله پسي پوښتنوډډه وکړی مرکه کونکی تل ساده پوښتني ښې ځوابوي.
- له چوپتیا ګټه واخلی او چې مرکه کونکی چوپ شي ور سره جوخت پوښتنه مه مطرح کوی.ډیر داسې را منځته کیږي چې مقابل لوری فکر کوې څه ډول ځواب ورکړي.یا فکر کوې چې مهم اطلاعات وموميې هغه ته لازم فرصت ورکړی.
- که پوه نه شوی- او لاس او پښې وهی چې پوه شی. هغه څه وایې داسې عبارتونه لکه که سم پوه شوې یو ،وکاروی.یا دا چې موضوع عادې خلکو ته څه ډول تشریح کوی.
- داسې څه شته چې له ویلو مو پاتې وې؟
- د هرې مرکې په پای کې له خپل ځان څخه پوښتنه وکړی.ځینې مهال مقابل لوری داسې معلومات لرې چې تاسو نه پرې پوهیږی.
- نومونه چک کړی-
- اغلبا د یوې ناستې په ترخ کې د ګډون والو نومونه لیکل کیږي په خپله کتابچه کې نخچه رسمه کړی او په ډاګه کړی څوک چیري ناست دی.څوکی شماره بندي کړی.۱۲۳......په دې ترتیب سره په آسانه پوهیږی چې څوک خبري کوي.
- ډله ییز کاروکړی

په خبري غونډو کې ګرانه ده چې د خپلې یوې مطرح شوې پوښتنې پسې بله پوښتنه وکړی بده نه ده چا چې کومه پوښتنه کړی ور پسې د موضوع د لا روښانتیا لپاره بله پوښتنه وکړی.که ډله ییز کار وکړی زیات اطلاعات تر لاسه کوی.

- د دروازې په خوله کې: هڅه وکړی څوک چې د خبرې غونډې سالون ته راځي او یا هم وځي ورپسې ولاړشی هغوي ډیر خوښیږي، څوتاسو ته ځواب درکړي او ستاسو په واک کې زیات معلومات درکړی.
- د هغو خبریالانو سره یو ځای شی چې په موضوع کې تخصص لري د هغو خبریالانو د پوښتنو د ځواب د تر لاسه کولو په لټه کې شی چې پوهیږی په موضوع واکمن دي.کارپوهان اغلبا خوښیږي چې نظریات یې خپاره شي.

## په اعدادو کار

خبریالان په هره حوزه کې چې کار کوي له اعدادو سره سر او کار لري یو دلیل یې دا دی چې ورځني اقتصادي او سوداګریز خبرونه معمولا د اعدادو درلودونکي دي.ځیني خبریالان کله چې له اعدادو سره مخامخ کیږي هک پک شي او دا هم وایې چې خبریال+اعداد= تیروتنه دا چې له ډیرو اعدادو لومړی درجه اطلاعات تر لاسه کړی څو لاندینی توصیې په په پام کې ونیسی.

**پرتله:** پرتله کړی او د تضاد په لټه کې شی اعداد په یواځیتوب مونږته څه ویلای نه شي یواځې بایډ پرتله شي.تیرکال،تیره میاشت یا بل شرکت داسې معنې پیدا کوي.

اعداد د پیښو روایت کوي لږ د اخوا اعداد وګوری څو بدلون ووینی.وروستی شمیرې ښیې چې د افغانستان د غنمو تولیدات د تیر یوه کال په بهیر کې دوه برابره شوي دي. ځکه دولت د ډوډی سب سایډې جوړه کړې څو له کورنیو کرکیچونو مخنیوی وشي.

د عدد پر ځای له کسر او سلو ګټه واخلی نیم میلیون غوره ده له ۵۰۰۰۰۰بشپړاعداد ډیر کم وکاروی.او هڅه وکړی په لیډ کې را نه شې.

د انساني زاویو په لټه کې شی خلک خوښ لري د نورو په باب معلومات تر لاسه کړی څه ډول د ونډو بانکي بیه د بل چا په پریکړو، چې غواړي کور واخلی اغیز کوي؟ایا دا به لامل شې چې ځینې خپل شغل له لاسه ورکړي؟

## اخلاق:

خبری موسسې په هر هیواد کې اخلاقي اصول لري البته دا اصول ډیر جزییات لري او له یوه هېواده په بل کې توپیر کوي. خو ډیر دا اصول په کلیدي موضوعاتو هوکړه لري.کله هم جعلې خبر مه جوړوی او یا دا چې د بل چا خبر مه پټوی .

کله هم بډي مه اخلی په ډیرو مخ پر ودو هیوادو کې خبریالان لږحقوق تر لاسه کوي نو له همدې امله د بډو اخیستو ته زړه ښه کوي.دا خبر یالان د ځینو سیاست والو او سترو شرکتونو د بډو ښکار ګرځي او د هغوي په ګټه خبرونه خپروي.

تل د مرکه کونکي له دې غوښتنې سره هوکړه مه کوی چې د مرکې له خپریدو وړاندې مطلب وګورې او خپور کړي.

د میلمستیا په وړاندې خورا احتیاط وکړی څوک چې میلمستا کوي په وړاندې یې د ځان په ګټه څه تر لاسه کول غواړې.

کله هم دخپلې سرچینې نوم مه په ډاګه کوی خبریالان آن د خپلې سرچینې د نه ښکاره کولو په موخه جیلونو ته تللي.

خپل سیاسي نظریات د خبر له لیکلو لرې کړی.

## امنیت:

ستاسو امنیت په لومړی درجه ارزښتمن دی او هیڅ خبر که تر ډیرو مهم هم وي،ستاسو د ځان په وړاندې مهم نه دی.که د واټونو په کړکیچ کې ونیول شی بیا کله هم نه شی کولای خبر ولیکی. او ستاسو کړنې د خبریال په توګه محدودیږي.

که فکر کوئ په خطر کې یې خپل مشر ته حالت بیان کړئ.که د لاریون د پوښښ په لټه کې یاست او د لاریون په مهال تاوتریخوالې را منځته شې او ستاسو د ځان خطره هم په کې وې د تېښتې لار ولټوئ.

عموما له زیاتو خبریالانو تمه نه کیږي چې له جګړې راپور ورکړې زیاتې خبري موسسې له دې وړاندې چې خپل خبریال د جګړو ډګر ته واستوې هغوی ته د خطرونو په اړوند معلومات ورکوي. که اړ یاست وسله والې ښتنې تر پوښښ لاندې راولې لاندینو ټکوته پام وکړئ.

احتمالي خطرونه جوت کړئ او پریکړه وکړئ کوم خبر چې غواړئ خپور کړئ آیا ارزښت لرې او که نه؟

لومړنۍ مرستې زده کړئ په ځانګړي توګه دا چې څه ډول له وینو تویېدو مخنیوی وکړئ.

تل که درنه وپوښتل شول ،ځان په روڼ ډول وپېژنئ هیڅ وخت ځان د بل چا په نوم مه پیژنئ. کله چې درنه وپوښتل شول څه کار کوئ؟ ووایاست خبریال یم.

تل ملکي جامې واغوندئ خو که د پوځې خبریال په توګه مجوز ولرئ او له تاسو وغوښتل شي چې پوځې جامې واغوندی دي غوښتنې ته مثبت ځواب ووایې.

د هغو نښانو په وړاندي چې لرئ فکر موورته وي.ښایې دا نښانونه تاسو د یوې ډلې کس وپیژني.په ځانګړي توګه په داسي ځای کې چې واک له یوې ډلي بلي ته سپارل کیږي.

که درته ګواښ کیږي هڅه وکړئ آرام ووسئ او دوستانه چلند ولرئ.


د خطر په ځایونو کې داسې بوټونه واغوندئ چې ورسره تېښته وکړای شئ.

# پای

0 0

ستاسي نظر

**0 څرګندونې** د ترتیب بنه : تازه ترین



یوه څرګندونه زیاتول...

فیس بوک څرګندوني پرانیستي دي